يو له سترو جهادونو څخه د ظالم واکمن پر وړاندې عادلانه وينا ده

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "يو له سترو جهادونو څخه د ظالم واکمن پر وړاندې عادلانه وينا ده".

[حسن لغيره دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د الله جل جلاله په لار کې د جهاد تر ټولو ستر او ګټور ډول د ظالم حاکم يا ټولواک پر وړاندې د حق او انصاف وينا ده؛ ځکه چې دا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په شعيره عمل دی، برابره خبره ده که دا په وينا سره وي، يا ليکنه او يا کړنې او داسې نورو سره چې مصلحت پرې تر لاسه کيږي او د فساد مخنيوی پرې کيږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3045